د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست








- د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د ايکو سازمان په ۱۷مه سرمشريزه کې د ګډون په موخه اذربايجان ته سفر وکړ
- د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي تاييدشوه
- محترم ملا عبدالغنی برادر آخند کمپلکس فابریکه های تولیدی را افتتاح نمود
- REPORT ON THE SIX-DAY VISIT TO THE REPUBLIC OF AZERBAIJAN

# اباسين مياشتنی

# آبادي

سرطان - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۱۹ مه ګڼه

ګڼه ۴

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

"

د وارداتو د تعويض د اغېزناکو سياستونو پلي کول او د داخلي صنايعو وده او ملاتړ د هېواد د ملي اقتصاد د تقويې او د اقتصادي خپلواکۍ پر لور ډېر مهم ګام دی؛ کله چې په هېواد کې د پانګونې کچه لوړېږي، ورسره په څنګ کې د کار موندنې فرصتونه زياتيږي، د بې وزلۍ او بې کارۍ کچه کمېږي، د ټولنيزو ستونزو کچه راټيټوي، د اسعارو د وتلو مخه نيسي او په ټوله کې د هېواد د اقتصادي ودې او پراختيا سبب ګرځي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابادي

میاشتنۍ

۴
گڼه

سرطان- ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۱۹ مه گڼه

| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي<br>فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار |
| **مسئول مدیر:** | مولوي خالق داد تقي |
| **ډیزاینر:** | عطاءالرحمن سعید |
| **فوټوژورنالیست** | حجت الله قاضي زاده |


مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- **د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.**
- **استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.**

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

غـــونـــډې ۲ - ۹

اذربایجان هېواد تـه سـفر ۱۰ - ۱۹

اقتصادي پروژې، غونډې او انفوگرافیک ۲۰ - ۲۷

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۲۸ - ۴۴

English Section 1 - 4




# سرلیکنه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د روان۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان په لسمه نیټه د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) په اوولسمه غونډه کې د ګډون په موخه د اذربایجان جمهوریت په رسمي بلنه دغه هېواد ته سفر وکړ. په دې سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) په اوولسمه عمومي غونډه کې د ګډون او وینا ترڅنګ د ازبیکستان له ولسمشر، د اذربایجان له لومړي وزیر، د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر او د قزاقستان له لومړي وزیر سره وکتل. دغه راز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د اذربایجان د باکو له بحري بندر څخه هم لیدنه وکړه.

د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) اوولسمه غونډه چې د اذربایجان په خنکندي ښار کې جوړه شوې وه، د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا، د سوداګرۍ ودې، اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د مبارزې، بیانوې کېدونکې انرژۍ او ځینو نورو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې. له افغانستان څخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې ګډون کړی و. په رسمي ډول دایکو سازمان په غونډه کې ګډون له یوه لوري په نړیوال سټیج د اسلامي امارت موقف په ډاګه کړ او له بل لوري دا ګډون د هغه چا پر مخ کلکه څپېړه وه چې وايي اسلامي امارت نړیوال مشروعیت نه لري. د ایکو سازمان په عمومي غونډه کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې په افغانستان کې رامنځته شویو اقتصادي پرمختګونو، پانګونې له پاره د شته فرصتونو، د افغانستان له لارې د سیمه‌ییزو مهمو اقتصادي پروژو تطبیق او اقلیمي بدلونونو موضوع ته اشاره وکړه.  دا هغه څه دي چې په عملي کېدو سره به یې په اقتصادي لحاظ د افغانستان پرمختګ ته لاره هواره او دغه راز کوم زیانونه چې د اقلیمي بدلونونو له امله افغانستان ته اوړي، د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د مبارزې له لارې به دغه ستونزې تر ډېره بریده له منځه ولاړې شي. د اقتصادي همکاریو سازمان(ایکو) د اوولسمې سرمشریزې په څنډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د منځنۍ اسیا هېوادونو د حکومتي لوړپوړو چارواکو په لیدنو کتنو کې ټول بحث او خبرې د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو د پراختیا ترڅنګ د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، برېښنا، بنسټیزو پروژو، د مزارشریف – هرات – کندهار اوسپنې پټلۍ پروژه، د نساجي فابریکو جوړولو، د سیمنټو تولید، د تیلو د تصفیې کارخونو، د مالګې کانونو استخراج او پروسس، الکترونیکي حکومتولۍ، سترو سوداګریزو لارو لکه لاجوردو دهلیز د فعالېدو او په بېلا بېلو برخو کې د منځنۍ اسیا هېوادونو د پانګونې په جلب او جذب ور ټولې وې. اسلامي امارت هڅه کوي چې ایکو سازمان غړو هېوادونو په ټوله کې د سیمې هېوادونو څخه د هېواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې همکارۍ ترلاسه او وکولای شي، د هېواد زیربناوې ورغوي، سوداګري پراخه او د ترانزیټ له پاره لار هواره کړي. دا ټولې هغه برخې دي چې پرمټ یې د دې امکان شته چې افغانستان په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو ودرېږي.



د ملي تدارکاتو او اقتصادي کمېسيونونو، تخنيکي او پانگونې بين الوزارتي کمېټو او يو شمېر نورو اقتصادي موضوعاتو اړوند

# غونډې

## د افغانستان اسلامي امارت

# اقتصادي پالیسي تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي د بحث لپاره وړاندې شوه چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شوه.

د یادې پالیسي لیدلوری (پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان) او موخې یې (د پانگونې د جذب او پراختیا لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول؛ د کورنیو تولیداتو او صادراتو زیاتول؛ د اشتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمول؛ پایداره اقتصادي پراختیا او وده؛ د اقتصادي ثبات، سوکالي او اسلامي ټولنیز عدالت ټینگښت) دي. اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره گټې اخیستنې او د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري.

د بغلان ولایت د مرکز پلخمري اړوند ۱۳ کلیو ته د برېښنا شبکې غځولو پروژې پاتې چارې دې افغانستان د برېښنا له داخلي بودیجې تمویل او بشپړې شي.

د غونډې په پای کې په بلخ ولایت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداگریز مارکېټ جوړولو طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د اته پوړیز سوداگریز مارکېټ جوړولو لپاره ۷۴۰ میلیونه افغانۍ پانگونه کوي چې ټولټال به ۸۷۸ دوکانونه ولري. همدارنگه په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداگریز مارکېټ جوړولو طرحه هم تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د معیاري سوداگریز مارکېټ جوړولو لپاره ۹۶ میلیون افغانۍ پانگونه کوي. پورته تصامیم د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شول.






# نشست تعقیب موضوعات مطرح‌شده

## با کشورهای آسیای میانه در حاشیه نشست سازمان ایکو برگزار شد

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، این نشست تعقیبي با حضور مسؤلان وزارت‌های مربوطه، ۱۹ سرطان سال ۱۴۰۴ خورشیدی، در قصر مرمرین برگزار گردید.

در این نشست، موضوعات مطرح شده در حاشیه هفدهمین نشست سران سازمان همکاری‌های اقتصادی (ایکو) با رهبران کشورهای ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان و آذربایجان مورد بحث قرار گرفت.

پس از بحث، وظایف مشخص به وزارت‌ها و ادارات مربوطه سپرده شد و هدایت داده شد که هر اداره مکلف است وظایف خود را به‌گونه جدی تعقیب نموده و گزارش پیشرفت کارهای خود را در مدت یک ماه با مقام محترم معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء شریک سازد.

در حاشیه هفدهمین نشست سران سازمان ایکو، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء طی دیدارهای جداگانه با رهبران برخی کشورها، پیرامون روابط سیاسی و اقتصادی میان افغانستان و کشورها یاد شده، تجارت، ترانزیت، ترانسپورت، خط آهن، برق، صدور ویزه برای افغان‌ها، همکاری‌های بانکی مشترک و برخی موضوعات دیگر مطرح نموده بود.

# په بلخ ولایت کې د پنځه پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونـــې بین‌الـــوزارتي کمېټې نوبتي غونـــډه ترسره شـــوه. دغه غونـــډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشـــتې په نهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ جوړه شوې وه. غونډې ته له اجنډا سره سم د بلخ ولایت په مزارشریـــف ښـــار کې د مالیـــې وزارت پر ځمکـــه د پنځه پوړیز ســـوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شـــوه، چې له هراړخیز بحث وروســـته د تایید وړ وبلل شوه.

همدارنګـــه دې غونډې ته پـــه ننګرهار او خوست ولایتونو کې د ښاروالیو پر ځمکو د ســـوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې هم د بحث لپاره وړاندې شـــوې. له بحث وروســـته ټاکل شـــوې کمېټې تـــه دنده وسپارل شوه څو د یادو طرحو تخنیکي او مالي اړخونه و ارزوي او راپور یې په ټاکلي وخت د پانګونـــې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# په لغمان کې د سوداگریز مارکېټ او په اسلام کلا بندر کې د سوداگریز کمپلکس جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم په لغمان ولایت کې د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت پر ځمکه د سوداگریز مارکېټ جوړولو او د هرات ولایت په اسلام کلا بندر کې د سوداگریز کمپلکس جوړولو طرحې د تاییدۍ لپاره وړاندې شوې. له هراړخیزې ارزونې وروسته یادې طرحې د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د تایید وړ وبلل شوې. دې غونډې ته په کابل ښار کې د سوداگریز او استوگنیز مارکېټ جوړولو او همداراز د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ستراتیژیک چوکاټ جوړولو طرحې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. د یادو طرحو د هراړخیزې ارزونې لپاره کمېټې وټاکل شوې، څو په ټاکلي وخت خپل راپورونه د پانگونې بین‌الوزارتي کمېټې سره شریک کړي.





# هر شرکت د تیر (TIR) کنوانسیون د اصولو پر بنسټ افغانستان د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای هېواد په توگه ټاکلی شي

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د هېواد په گمرکونو کې د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای ټاکلو موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته نظر ورکړل شو، چې د تیر (TIR) کنوانسیون د اصولو پر بنسټ هر شرکت چې وغواړي افغانستان خپل د تیر (TIR) عملیې د پیل هېواد ټاکلی شي او د گمرک له لوري یې د بار تر تشریح او قانوني پروسې وروسته له افغانستان څخه د تیر (TIR) عملیه پیل کولی شي. دغه نظر د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.



# د کبانو سکټور د پراختیا طرحه

## د تایید وړ وبلل شوه



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۳۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کبانو سکټور د پراختیا طرحه او همداراز د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا پالیسي د بحث لپاره وړاندې شوې.

له هراړخیز بحث وروسته د اوبو او انرژۍ وزارت د نظر په پام کې نیولو سره د کبانو سکټور د پراختیا طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې په ټول هېواد د کبانو روزنې ۷۷۰۰ فارمونه جوړیږي، چې تر ۹۰ سلنې به د کبانو غوښې په برخه کې د هېواد اړتیا پوره او ۳۰۰ زره هېوادوالو ته به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي. یاده طرحه د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.

د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې په دې غونډه کې د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا پر پالیسۍ هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مسوولینو ته سپارښتنه وشوه، څو په دې پالیسۍ کې د اوبو او انرژۍ وزارت نظرونه ځای پرځای او نهایي بڼه یې د تخنیکي کمېټې راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

# ملي تداركاتو کمېسيون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تداركاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د ملي تداركاتو کمېسيون دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۲۸ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته ۱۹ پروژې تعدیل، د ۸۲۸ میلیون افغانیو په ارزښت شپږ پروژې منظورې او د یوې پروژې قرارداد فسخه شو. همدارنګه د یوې پروژې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو یې بیاځلې تداركاتي پروسه و ارزوي. د یوې بلې پروژې په اړه بیا ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکي شرکت سره د پروژې د قېمت په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تداركاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي.

په تعدیل شوو او منظور شوو پروژو کې د کابل ښار د یوشمېر داخلي سړکونو جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



د ایکو سازمان په ۱۷مه
سرمشریزه کې د ګډون په موخه

# اذربایجان ته سفر



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې ګډون او وینا وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړی پلاوی د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) د غړو هېوادونو د مشرانو په اوولسمه ناسته کې د ګډون په موخه د سې شنبې ورځ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۰مه نېټه د اذربایجان هېواد مرکز باکو ښار ته په سفر ولاړ. د حیدر علي ییف په نړېوال هوایي ډګر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي ته د اذربایجان هېواد له لوري تود هرکلی وشو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د سرطان میاشتې په ۱۲مه نېټه د اذربایجان هېواد فوزولي ښار ته ورسېد او په فوزولي نړیوال هوایي ډګر کې یې د اذربایجاني مسوولینو له لوري تودهرکلي وشو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له فوزولي ښار څخه خانکندي ښار ته چې د ایکو غونډه پکې جوړه شوې وه سفر وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سرطان میاشتې په ۱۳مه نېټه د اذربایجان هېواد په خنکندي ښار کې د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې ګډون او وینا وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوندد ایکو سازمان ۱۷مې سرمشریزې ته د خپلو خبرو پرمهال وویل، د افغانستان اسلامي امارت د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست د دوام په پایله کې، د روسیې فدراسیون له خوا په رسمیت وپېژندل شو. اسلامي امارت د دغه ګام تود هرکلی کوي. له همدې امله، له ایکو سازمان سره د افغانستان د ژورې او اوږدمهاله همکارۍ په رڼا کې، د یاد سازمان له غړو هېوادونو هیله لرو چې د افغانستان مشروع سیاسي واقعیت درک کړي او د روسیې فدراسیون په څېر د رسمیت پېژندنې په لور

عملي او مثبت گامونه واخلي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سياست، په افغانستان کې د شوو اقتصادي پرمختګونو، د پانګونې لپاره د موجودو فرصتونو او همداراز د افغانستان له لارې د سيمه‌ييزو مهمو اقتصادي پروژو د تطبيق او بشپړولو لپاره د برابرو شوو فرصتونو په اړه خبرې وکړې.

محترم ملا صاحب د ايکو سازمان له غړو هېوادونو وغوښتل چې له يوه باثباته، باوري او همکار افغانستان سره د اقتصادي او سيمه‌ييزو همکاريو د پياوړتيا لپاره د دوامداره پرمختګ او همغږۍ فضا جوړېدو ترڅنګ؛ د سوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانسپورټ، کرنې، چاپيريال ساتنې او اقليمي بدلونونو په برخو کې له نېږدې کار وکړي، چې افغانستان په يادو برخو کې له خپل لوري بشپړ چمتووالی لري. هغه زياته کړه: «موږ باور لرو چې د ايکو سازمان غړو هېوادونو اقتصاد هغه وخت ښه وده کولی شي چې افغانستان هم د دې معادلې متحرکه برخه وګرځي». محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ايکو سازمان په اوولسمه سرمشريزه کې له مظلومو فلسطينيانو سره د افغانستان اسلامي امارت خواخوږي يوځل بيا څرګنده کړه او ويې ويل: «هغه ظلم چې د غزې په مظلوم ولس کېږي، بايد ژر تر ژره پای ته ورسېږي. موږ د فلسطين د ازادۍ او د بيت المقدس د اسلامي هويت د خوندي ساتلو پوره ملاتړ کوو.» د رياست‌الوزرا اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پرمهال وړانديز وکړ چې: «د اقتصادي همکاريو سازمان راتلونکې، اتلسمه سرمشريزه دې په کابل کې ترسره شي. موږ د دې سترې او ارزښتناکې ناستې د کوربه توب لپاره بشپړ چمتووالی لرو او د ټولو ګډونوالو تود هرکلی کوو.»

د ايکو سازمان په اوولسمه سرمشريزه کې د غړو هېوادونو ولسمشرانو، لومړي وزيرانو او لوړپوړو چارواکو حضور درلود، چې د دغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ يې د سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، ترانزيټي، ترانسپورټي او کلتوري اړيکو، سيمه‌ييز اتصال او پانګونې په اړه د پوره همکارۍ او همغږۍ پر رامنځته کولو ټينګار وکړ.

> موږ باور لرو چې د ايکو سازمان غړو هېوادونو اقتصاد هغه وخت ښه وده کولی شي چې افغانستان هم د دې معادلې متحرکه برخه وګرځي.

# محتـــرم ملا عبدالغني بـــرادر اخـــوند
# د اذربایجان له لومړي وزیر سره وکتل




د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغنـــي بـــرادر اخونـــد د اقتصـــادي همکاریو ســـازمان (ایکو) په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه اذربایجان جمهوریت ته د خپل ســـفر په ترڅ کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په یوولســـمه نېټه د دغه هېواد له لومړي وزیر ښاغلي علي اســـدوف سره وکتل. د دغه لیدنې پرمهال چې په باکو ښار کې ترسره شوه، دواړو لورو د افغانستان او اذربایجـــان ترمنـــځ د ســـیاسي، اقتصـــادي، سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کـــې له اذربایجان جمهوریـــت مننه وکړه چې د افغانســـتان اسلامي امـــارت پلاوي ته یـــې د ایکو سازمان په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون رسمي بلنه ورکړه او د دوی یې تود هرکلی وکړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي اړیکو د پراختیا په موخه په باکو کې د افغانستان سفارت د ډیپلوماتیک حضور د لوړولو او د اذربایجان له لوري په رسمي ډول د اسلامي امارت د ســـفیر منلو غوښتنه وکړه. محترم ملا صاحب د نفت او ګازو د اســـتخراج او پروسس، اوسپنې پټلۍ شبکو پراختیا او همداراز د لمریزې او بادي برېښنا تولید په برخه کې له اذربایجان وغوښتل څو په یادو برخو کې په افغانســـتان کې پانګونه ترسره او خپلې تجربې له افغانانـــو سره شریکـــې کړي. همدارنګـــه محترم ملا صاحب د کرنې میکانیزه کولو، اوبو مدیریت، د اسان خدمت پروګرامونو د تطبیق، ماین پاکۍ او مســـلکي زده کـــړو په برخـــه کې هم لـــه اذربایجـــاني لوري وغوښتل، څو له افغانانو سره همکاري ترسره او خپلې تجربې ورسره شریکې کړي. د دغه لیدنې پرمهال

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمه‌ییز اتصال په برخه کې د لاجوردو دهلیز پر فعال ساتلو او په دې برخه کې د موجوده ستونزو پر حل ټینګار وکړ. هغه وویل، اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ له مخې په سیمه‌ییز اتصال باور لري او د لاجوردو دهلېز د افغانستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچې زیاتېدو لپاره خورا مهم بولي.

د اذربایجان لومړي وزیر ښاغلي علي اسدوف د افغانستان له اقتصادي مرستیال سره د کتنې پر مهال څرګنده کړه، چې افغانستان یو لرغونی هېواد دی، کلتور او اوږد تاریخ لري. نوموړي وویل، د افغانستان او اذربایجان ملتونه دیني، مذهبي، تاریخي او فرهنګي نږدېوالی لري او د اذري ولس له خوا افغانانو ته د درناوي دغه حس د قدر وړ دی. هغه وویل: «تاسو هم زموږ په څېر د خپلواکۍ لپاره سختې ستونزې وزغملې، چې پایله یې نن یو خپلواک او باعزته هېواد لری.»

د اذربایجان لومړي وزیر زیاته کړه، هېواد یې لېواله دی، چې له افغانستان سره د ایکو سازمان له لارې او هم د دوه‌اړخیزو او درې‌اړخیزو همکاریو له لارې، په بېلابېلو برخو کې پراخې اړیکې ولري.

نوموړي وویل: «موږ تل له افغانستان سره د همکارۍ هڅې کړې دي او په دې برخه کې خپلو اقداماتو ته دوام ورکوو. د افغانستان چټک اقتصادي پرمختګ د خوښۍ ځای دی او موږ چمتو یو چې په ځانګړي ډول د سوداګرۍ، پانګونې او اقتصادي همکارۍ په برخو کې ګډ کار ته دوام ورکړو.» ښاغلي اسدوف زیاته کړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره دې ګډ اقتصادي کمېسیون بیا فعال کړل شي. همداراز د لاجورد لار زموږ له لومړیتوبونو څخه ده او په دې اړه د ښکېلو هېوادونو د ترانسپورټ وزیرانو په کچه د ترسره شوې ناستې د پرېکړو تطبیق ته ژمن یو. نوموړي همدارنګه یادونه وکړه چې د افغانستان، اذربایجان او ازبیکستان ترمنځ درې اړخیز کاري ګروپ هم فعال شوی، چې لومړۍ ناسته یې په کابل کې ترسره شوې او بله ناسته به ژر په ازبکستان کې ترسره شي، هیله ده هلته به لا زیات مشترک مسایل مطرح کړو.

د اذربایجان لومړي وزیر د کانونو د اکتشاف او استخراج، د نوي کیدونکې انرژۍ، د اوبو مدیریت، کرنې میکانیزه کولو، او د اورګاډي پټلۍ په برخو کې له افغانستان سره د تجربو شریکولو، پانګونې او همکارۍ لپاره د خپل هېواد چمتووالی څرګند کړ. همدارنګه، نوموړي د ډېرو سکرو د ترانزیټ لپاره د اذربایجان له لارې ترکیې ته د لېږد ملاتړ اعلان کړ. ښاغلي علي اسدوف د افغان سوداګرو لپاره د ویزو اسانتیاوو، د افغان محصلینو لپاره د تحصیلي بورسونو، د ظرفیت لوړونې برنامو او په اذربایجان کې د بندي افغانانو د دوسیو د حل په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

په پای کې دواړو لورو دا لیدنه د افغانستان او اذربایجان ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره یو ښه فرصت یاد کړ او په ذکر شوو برخو کې یې د عملي هڅو پر پیل او دوام ټینګار وکړ.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له ولسمشر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په څنډه کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۲مه نېټه د اذربایجان هېواد په خنکندي ښار کې د ازبیکستان له ولسمشر ښاغلي شوکت میرضیایف سره وکتل.

د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو، اوسپنې پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزیټ او برېښنا باندې خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې پر نړیوال سټېج د افغانستان په اړه د ازبیکستان جمهوریت له مثبت او واقعبینانه موقف مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د تلپاتي ښو اړیکو غوښتنه وکړه.

محترم ملا صاحب وویل: «دا مهال د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه له یو میلیارد ډالرو څخه اوښتې ده، چې د پخوا په نسبت ۶۰ سلنه زیاتوالی ښيي. موږ هیله لرو چې دا کچه په راتلونکي کې دوه میلیارده ډالرو ته ورسېږي.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبیکستاني لوري وغوښتل چې د ازبیکستان له لارې منځنۍ اسیا او روسیې ته د افغاني توکو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. هغه زیاته کړه، اړتیا ده چې دواړه ګاونډي هېوادونه داقتصادي ثبات، زېربنايي پراختیا او ښېرازۍ لپاره د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، سیمه ییزې زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت په برخه کې یوځای کار وکړي.

ورپسې د ازبیکستان ولسمشر ښاغلي شوکت میرضیایف خبرې وکړې. هغه وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه رامنځته شوي او ازبیکستان په نړیوالو سټېجونو د افغانستان رښتیني واقعیتونه بیان کړي او کوښښ کوي

چې دا واقعیتونه تر نړیوالو په ځانګړي ډول ملګرو ملتونو پورې ورسوي. میرضیایف زیاته کړه، هېواد یې په افغانستان کې د مزارشریف – هرات – کندهار اوسپنې پټلۍ پروژه، د نساجي فابریکو جوړولو، د سیمنټو تولید، د تیلو د تصفیې کارخونو، د مالګې کانونو استخراج او پروسس، الکترونیکي حکومتولۍ او نورو سکټورونو کې پانګونې ته چمتووالی لري.

هغه وویل، چمتو دي چې د افغانستان له لوري د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځولو پروژې د چارو په ژر بشپړېدو سره افغانستان ته د واردېدونکې برېښنا اندازه هم زیاته کړي.

شوکت میرضیایف وویل، ازبیک لوري ته به ځانګړې هدایت وکړي څو د ازبیکستان له لارې منځنۍ اسیا او روسیې ته د افغاني توکو په ځانګړي ډول کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي.

نوموړي د دواړو هېوادونو ترمنځ د بانکي انتقالاتو، افغانانو ته د ویزو ورکړې او همداراز د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترمذ نړیوال سوداګریز مرکز کې د افغاني توکو د پلور لپاره د اسانتیاوو پر رامنځته کولو او د دغه مرکز پر پراختیا هم ټینګار وکړ.

همدا راز دواړو لورو تر کار لاندې مواردو کې د عملي کار د پیل لپاره د ځانګړو چینلونو پر ایجاد او تقویې موافقه وکړه.

په پای کې دواړو لورو په ذکر شوو برخو کې د پرمختګ او تعقیب په موخه د افغانستان له لوري د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ازبیکستان له لوري د دغه هېواد د لومړي وزیر په مشرۍ د ګډ ګروپ په رامنځته کولو موافقه وکړه، چې په هرو دریو میاشتو کې به یوځل



غونډه ترسره کوي او د کمېټو له لارې د ترسره شویو کارونو پرمختګ او څرنګوالی به ارزوي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

## د ترکمنستان د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند اذربایجان ته د خپل رسمي سفر پرمهال د ایکو سازمان په څنډه کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۲مه نېټه د اذربایجان په خنکندي ښار کې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مرادوف سره وکتل.

د دې لیدنې پرمهال د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ګډو او مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه بحث وشو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اړیکو پراختیا په موخه په عشق اباد کې د سفیر او په ماري کې د جنرال قونسل کچې ته د اسلامي امارت د ډیپلوماتیکو اړیکو لوړېدل مهم وبلل. هغه وویل، د کابل او عشق اباد ترمنځ له ګډو اقتصادي مشترکاتو یوه مهمه پروژه ټاپي ده، چې د دواړو هېوادونو او همداراز سیمې ترمنځ یې د لا ډېرې همکارۍ د پراختیا زمینه برابره کړې ده. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت له لوري د ټاپ پروژې لار نقشه هم نهایي شوې او پوره هڅه کوي چې په افغانستان کې د دې پروژې چارې له کوم ځنډ او خنډ پرته پرمخ ولاړې شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل او عشق اباد ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پیاوړتیا له پاره په عشق اباد او کابل کې د سوداګرۍ خونو او بانکي څانګو پر پرانیستل کېدو او همداراز افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې په برخه کې د اسانتیاوو پر برابرولو ټینګار وکړ. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، سیمه‌ییزې زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ یوځای کار کول به د دواړو هېوادونو په اقتصادي ثبات، پراختیا او ښېرازۍ کې مؤثر رول ولوبوي.

محترم ملا صاحب د کرنې په برخه کې د ترکمنستان تجربې او پرمختګ ته په کتو له دې هېواد وغوښتل چې په دې برخه کې خپلې تجربې له افغانانو سره شریکې او د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه پرې ګډ کار وکړي.

ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر، ښاغلي رشید مرادوف، خبرې وکړې. نوموړي څرګنده کړه چې ترکمنستان تل له افغانستان سره د ښو او دوستانه اړیکو غوښتونکی پاتې شوی. هغه زیاته کړه: "زموږ جمهور رئیس تل په نړیوالو ستېجونو کې د افغانستان ملاتړ کړی او هلته یې د ترسره شویو پرمختګونو ستاینه کړې ده."

ښاغلي مرادوف وویل چې ترکمنستان چمتو دی څو له افغانستان سره د سیاسي اړیکو تر څنګ، د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراخېدو په برخه کې ګډ کار ته ادامه ورکړي. نوموړي په ځانګړې توګه د ټاپي پروژې یادونه وکړه او وویل چې د دې سترې

انرژۍ پروژې کارونه د پلان له مخې په ښه ډول روان دي. هغه له افغان لوري وغوښتل چې د ټاپ پروژې د مسیر تفصیلي نقشه له ترکمنستان سره شریکه کړي، څو یې پاتې تخنیکي او تطبیقي چارې نهایي شي.
په غونډه کې همداراز، د دواړو هېوادونو ترمنځ د شته او تر کار لاندې پروژو د چټکتیا په اړه هم ټینګار وشو، څو دغه پروژې پر ټاکلي مهال بشپړې شي.
په پـــای کې، دواړو لوریـــو پرېکړه وکـــړه چې د یادو همکاریـــو د پرمختګ او منظم تعقیـــب په موخه به د دواړو هېوادونو د لومړیو وزیرانو مرســـتیالان وخت په وخت اړوند موضوعات تعقیب کړي او په پرمختګونو به څارنه ولري.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند
# د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په څنډه کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۴مه نېټه د اذربایجان هېواد د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه بندر امکانات او د انتقالاتو بهیر له نږدې ولیدل او له اذربایجاني مسوولینو یې وغوښتل چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي. د دغه لیدنې پرمهال چې د باکو نړیوال بحري بندر او د اوسپنې پټلۍ مسوولینو حضور درلود، دوی وویل، د دغه بندر له لارې چې د لاجوردو دهلیز په مسیر کې موقعیت لري، ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي توکو، کرنیزو محصولاتو او کاني توکو صادراتو ته چمتو دي. دوی همداراز د اوسپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی وښود. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې وټاکلې، څو د دغه بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ترانزیټ د رامنځته کېدو په موخه موجود امکانات او ترانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.

د باکو نړیوال بحري بندر اوسمهال په کلني ډول د ۱۵ میلیون ټنه توکو د انتقال ظرفیت لري، چې په راتلونکي کې به دا کچه ۲۵ میلیون ټنه توکو ته ورسېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند اذربایجان ته هېواد له رسمي شپږ ورځنۍ سفر ورسته د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۵مه نېټه د یکشنبې ورځ سهار بېرته کابل ته راستون شو.





# اقتصادي پروژې

## غونډې، کنفرانسونه او انفوګرافیک



# د ارغستان لوړې بند

## د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پروژه پرانیستل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په پنځمه نېټه په کندهار ولایت کې د ارغستان لوړې بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پروژې د عملي چارو د پیل پرانیسته وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوبو مدیریت په برخه کې د دې پروژې پیل مهم وباله او ویې ویل، دوی د خپلو کړو وعدو د تحقق او هېوادوالو ته د خدماتو رسولو لپاره شپه او ورځ لګیا دي. اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو برخو کې په مختلفو سکټورونو کې پروژې تطبیق، د اړتیا وړ خدمات وړاندې او عادلانه پرمختګ ته زمینه برابره کړي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د ارغستان لوړې بند هغه زېربنایي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به یې لسګونه زره جریبه ځمکه خړوبه، برېښنا به تولید او د سېلابونو په مخنیوي کې به رغنده رول ولوبوي. د هغه په خبره، دا پروژه نه یوازې د افغانانو د تخنیکي ظرفیت ښکارندويي کوي، بلکې دا ثابتوي چې امنیت او اراده وي، افغانان د الله تعالی په مرسته د لویو پروژو د مدیریت توانايي لري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د دې بند او په نورو مختلفو سکټورونو کې د لسګونو پروژو په پرانیستې سره دا ثابته کړه چې افغانستان نور د بهرنیو مرستو ته محتاج نه، بلکې د خپل اقتصاد جوړوونکی او د خپلو منابعو ساتونکی دی. دا بند به په دې سیمه کې د اوبو مدیریت ته نوی نظم ورکړي او د سیمې اوسېدونکو ته به د کار زمینه هم برابره کړي.

محترم ملا صاحب هېوادوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې دېته د ورته پروژو عملي کولو پلان لري او په ټولو افغانانو په ځانګړي ډول پانګوالو غږ کوي، چې د هېواد د ابادۍ او بیارغونې لپاره کار وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کندهار ولسونو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت به د ارغستان لوړې د اوبو ذخیره کولو بند د جوړولو لپاره له شته امکاناتو په کار اخیستلو پوره هڅه وکړي، چې چارې یې ژر تکمیل کړي. هغه له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې دغه پروژه په ښه کیفیت، په پوره صداقت او امانت دارۍ سره بشپړه کړي.

د یادونې وړ ده چې د ارغستان لوړې بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پر پروژه ۱۰۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او چارې به یې په ۱۸ میاشتو کې بشپړې شي.



# افغانستان اوسمهال د خپلې اړتیا وړ مالګه په کور دننه تولیدوي

افغانستان د نورو کانونو ترڅنګ د مالګې هم پراخې او لویې زېرمې لري. دغه کانونه په تخار، سمنګان، بلخ، فاریاب، غور، هرات، پروان، پکتیا، غزني او کندهار ولایتونه کې موقعیت لري، چې کیفیت یې غوره او ښه بلل شوی دی. اوسمهال د هېواد په کچه د مالګې د موجودو او تثبیت شوو کانونو له جملې څخه له ۱۲ کانونو یې په مسلکي ډول استخراج روان دی.

له دې کانونو څخه په میاشتني ډول ۲۸ زره او په کلني ډول ۳۴۴ زره ټنه مالګه استخراجیږي، چې اوسمهال د هېواد په کچه د خوراکي او حیواني مالګې اړتیا پوره کولی شي. افغانستان په کلني ډول ۳۰۰ زره ټنه مالګې ته اړتیا لري چې ۱۶۰ زره ټنه یې خوراکي او ۱۴۰ زره ټنه یې حیواني ده.

اسلامي امارت د مالګې په سکټور کې ځان بسیاینې ته د رسېدو په موخه د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې له مخې هېواد ته د هر ډول مالګې واردات بندي کړې دي، څو له یوه لوري هېواد د معیاري او باکیفیته مالګې په برخه کې پر ځان بسیاینې ته ورسېږي او له بل لوري په دې سکټور کې په زیاته اندازه پانګونه جذب کړي.

اوسمهال په ټول هېواد کې د مالګې د تولید او پروسس ۵۳ کارخونې فعالیت کوي چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول پکې ډېر هېوادوال په کار مصروف دي. د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې له مخې دغه کارخونې مکلفې بلل شوې دي چې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره به برابره او له صحي اړخه باکیفیته مالګه تولید او پروسس کوي. اسلامي امارت د مالګې تولید او پروسس کارخونو ته له خپل لوري د هر ډول ملاتړ او همکارۍ ډاډ هم ورکړی دی.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند کمپلکس فابریکه‌های تولیدی را افتتاح نمود

از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء ۳۰ م سرطان سال ۱۴۰۴ خورشیدی، کمپلکس چندین فابریکه تولیدی در شرکت انکشاف ملی افتتاح گردید. معاون اقتصادی ریاست الوزراء فعال‌سازی مجدد این کمپلکس تولیدی را گامی اساسی در راستای رشد و توسعه تولیدات و صنایع داخلی دانست و افزود که با این اقدام، وابستگی افغانستان به تولیدات خارجی کاهش یافته و در تقویت و گسترش صنعت داخلی کمک قابل ملاحظه خواهد کرد.

محترم ملا صاحب اظهار داشت که این کمپلکس تولیدی برای شمار زیادی از هموطنان زمینه کار را فراهم خواهد نمود، محصولات آن نسبت به بازارهای منطقه‌ای و خارجی با قیمت مناسب‌تری به مردم عرضه خواهد شد و در مجموع، این کمپلکس نقش مؤثری در تقویت اقتصاد ملی کشور ایفا خواهد کرد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند بار دیگر از تمامی سرمایه‌گذاران و تاجران خواست که بیایند و در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند. به گفته حاجی ملا صاحب، در حال حاضر در افغانستان برای هر نوع سرمایه‌گذاری بزرگ، متوسط و کوچک زمینه مناسب فراهم شده است. در پایان، معاون اقتصادی ریاست الوزراء از مسؤلین شرکت انکشاف ملی قدردانی نمود که این فابریکه‌های تولیدی را پس از ٦٠ سال توقف دوباره فعال ساختند و با تأکید از آنان خواست تا تولیدات با کیفیت را در اختیار مردم کشور قرار دهند.

قابل یادآوریست که این کمپلکس فابریکه های تولیدی در حال حاضر ۱۰۵ نوع محصول مختلف تولید می‌کند که شامل ماشین‌آلات و تجهیزات زراعتی برای کمپلکس‌های زراعتی قوش‌تیپه، پرزه جات مختلف ماشین‌آلات فابریکه های صنعتی و کوچک، وسایط ترانسپورتی، عناصر فلزی، وسایل برقی و قطعات دروازه های کانال‌ها و بندهای آبی می‌باشد، که شماری از این تولیدات به نمایش نیز گذاشته شدند.



# افغانستان به په ۱۴۰۷ کال کې د نباتي غوړیو ۳۰ سلنه اړتیا له خپلو داخلي سرچینو پوره کړي

افغانستان د یو کرنیز هېواد په توګه د نباتي غوړیو د تولید لپاره مناسبې ځمکې او ښه هوا لري. د کرنې له نظره، په افغانستان کې د زیتون، لمرګلي، شرښم، پنبې دانې، زغر، کنځلې او سویابین غوړ لرونکي بوټي کرل کېږي او د خوراکي نباتي غوړیو په برخه کې د هېواد د اړتیا پوره کولو وړتیا لري. پنبه، سویابین، کنځلې او شرښم هغه غوړ لرونکي بوټي دي چې په افغانستان کې ښه حاصل ورکوي. له دې جملې د پنبې کرلو ته په بلخ، هلمند او نیمروز او یوشمېر نورو ولایتونو کې بزګرانو مخه کړې او دا د کوکنارو ښه بدیل کښت بولي.

افغانستان هر کال ۴۹۳۹۲۰ ټنه خوراکي غوړیو ته اړتیا لري، چې اوسمهال د کورنۍ اړتیا لس سلنه په کور دننه تولید او پاتې نور له بهر څخه واردېږي. اسلامي امارت د دې لپاره چې افغانستان د نباتي خوراکي غوړیو په برخه کې خودکفایۍ ته ورسېږي، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري پنځه کلنه طرحه جوړه کړې ده. دغه طرحه د اقتصادي کمېسیون له لوري له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شوې هم ده. د دې طرحې له مخې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې ۲۸۸۸۴۸ هکتاره ځمکه د غوړ لرونکو بوټو د کښت لپاره په پام کې نیول شوې ده، چې په پنځم کال به د هېواد د خوراکي نباتي غوړیو ۳۰ سلنه اړتیا په کور دننه پوره شي. ددې ترڅنګ به ددغې طرحې د تطبیق په پنځم کال ۴.۱ میلیون هېوادوالو ته موسمي دندې هم پیدا شي. د دې طرحې له مخې به د خوراکي نباتي غوړیو د ۳۰ سلنه اړتیا پوره کولو سربېره ۲۶۶ زره او ۷۲۲ ټنه کنجاړه هم تولید شي. د پنځو کلونو په موده کې د طرحې ګټه نږدې ۸۱ میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده. اسلامي امارت د دې طرحې پر اساس ټولو پانګوالو ته بلنه ورکوي چې د غوړ لرونکو بوټو د کښت، پروسس او تولید په برخه کې پانګونه وکړي. اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.



# د اقتصادي همکاریو سازمان څخه

## د اسلامي امارت غوښتنې

د افغانستان اسلامي امارت د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست د دوام په پایله کې، د روسیې فدراسیون له خوا په رسمیت وپېژندل شو. موږ د دغه ګام تود هرکلی کوو. د ایکو سازمان له ټولو غړو هېوادونو څخه هیله لرو چې د افغانستان مشروع سیاسي واقعیت درک کړي او د روسیې فدراسیون په څېر د رسمیت پېژندنې په لور عملي او مثبت ګامونه واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت د لاجورد لارې په مسیر کې د پرتو هېوادونو په ملاتړ او همکارۍ غواړي چې له دې لارې عملاً د سوداګرۍ او ترانزیټ په موخه استفاده پیل کړي. د افغانستان اسلامي امارت د لاجوردو لارې د هغو شریکو هېوادونو له جملې چې دلته حضور لري او په دې اړه د وزیرانو په کچه وروستۍ ناسته تېر میلادي کال د ترکیې هېواد په کوربتوب ترسره سوې، غوښتنه کوي چې د ښکېلو هېوادونو ترمنځ ناستې زیاتې سي تر څو په دې برخه کې شته کارونو ته رسېدنه وسي.

موږ وړاندیز کوو چې د اقتصادي همکاریو سازمان راتلونکې اتلسمه سرمشریزه دې په کابل کې ترسره سي. موږ د دې سترې او ارزښتناکې ناستې د کوربتوب لپاره بشپړ چمتووالی لرو. دا سرمشریزه به نه یوازې زموږ د متقابل تفاهم، همغږۍ او ګډو موخو د لا پیاوړتیا زمینه برابره کړي، بلکې کابل ته د ایکو د غړو هېوادونو د مشرانو راتګ به د سیمه‌ییز ثبات او پراختیا په برخه کې د ګډې همکارۍ یو نوی باب پرانیزي.

د اقتصادي همکاریو سازمان هېوادونه اوس کولی سي او غوښتنه ترې لرو چې له یوه باثباته، باوري او همکار افغانستان سره د اقتصادي او سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا لپاره د دوامداره پرمختګ او همغږۍ فضا جوړېدو ترڅنګ د سوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانسپورټ، کرنې، چاپیریال ساتنې او اقلیمي بدلونونو په برخو کې له نېږدې کار وکړي، چې دا د ۱۷مې سرمشریزې له اساسي موخو څه هم ګڼل کیږي.

په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره سوې او همدا اوس مهال د برېښنا، کانونو، زراعت، صنعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو، روغتیا او په ګڼو نورو سکټورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو پانګونه کړې، له همدې ځایه د ایکو سازمان غړو هېوادونو باندې غږ کوو او بلنه ورکوم چې په پورته ذکر سویو سکټورونو کې پانګونه وکړي.



# اوسمهال په ټول هېواد کې
# د درملو ۶۳ تولیدي فابریکې فعالیت کوي

دغه فابریکې ۲۳۵۶ قلمه بېلابېل درمل تولیدوي

په کور دننه تولید شوي درمل له ۱۰ تر ۱۵ سلنې پورې د هېواد اړتیا پوره کوي

د یادو فابریکو تولید شوي درمل د کیفیت له پلوه خورا ښه دي

## د درملو سکټور د ملاتړ په موخه برابرې شوې اسانتیاوې



۱. د درملو، روغتیایي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچاق د مخنیوي په موخه قانون جوړ شوی؛

۲. د هېواد په کچه په ټولو صنعتي پارکونو کې د درملو تولیدي فابریکو ته ځمکه ورکول کېږي؛

۳. د هغو درملو پر وارداتو ګمرکي تعرفې لوړې شوې دي چې هغه په کور دننه تولیدېږي؛

۴. د استفادې پرمهال په کور دننه تولید شوو درملو ته لومړیتوب ورکول کېږي؛

۵. د درملو تولیدي فابریکو ته د اړتیا وړ برېښنا برابره شوې ده.

**یادونه**

اسلامي امارت د درملو په سکټور کې د پانګونې لپاره ښه فرصتونه برابر کړي او په دې برخه کې پانګوالو ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

# افغانستان در ۱۳۰ بخش بـه خودکفایی کامل و در ۱۰۰ بخش به خودکفایی نیمه رسـیده اسـت

- در سراسر کشور حدود ۶۰۰۰ کارخانه صنعتی به‌صورت رسمی فعالیت دارند که با استفاده از آن، افغانستان هم‌اکنون در ۱۳۰ بخش به خودکفایی کامل و در ۱۰۰ بخش به خودکفایی نیمه دســت یافته است.
- ایــن کارخانه‌ها ۵۷۰ نوع مواد مانند آرد، روغن، نمک، دوا، آهن، سمنت، فــولاد، مــواد کیمیاوی و محصـولات دیگــر را تولید می‌کنند.
- در ایــن کارخانه‌ها حدود ۱۳۵ هزار تن از هموطنان کشـور به‌گونه مســتقیم مصروف کار اند.

## امارت اسـلامی در بخش‌های ذیل برای کارخانه‌های صنعتی سهولت‌ها را فراهم کرده است

توزیــع زمین بــرای صنعت کاران در سراسر کشور؛

فراهــم نمودن مــواد خام مــورد نیــاز بــرای صنعــت کاران؛

کاهش تعرفه گمرکی مواد خام و ماشین‌آلات وارداتی به یک فیصد و در بسـیاری موارد به صفر؛



جلوگیــری از قاچــاق مواد مصرفی فابریکه‌ها؛

وضــع تعرفه‌هــای بلنــد بر کالاهای وارداتی که در داخل کشور تولید می‌شوند؛

و برگــزاری نمایشــگاه‌های بزرگ داخلی و بین‌المللی به منظــور تقویــت صنایــع داخلــی.



# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# تلاش‌هـای امــارت اسلامـی در راستـای فراهم‌سازی سرپناه برای عودت‌کنندگان

نجیب‌الله مایار

درایــن مقاله در مــورد آمادگی امــارت اسلامی بــرای پذیرش مهاجران افغان و شهرک‌های در نظر گرفته‌شده برای هم‌وطنان عودت‌کننده در سرتاسر کشور بحث شده است.



## مقدمه

در افغانســـتان، چندین دهه اشـغال و تداوم جنگ‌ها سبب شد که میلیون‌ها نفر کشور را ترک کنند. بیشتر این مهاجرین به کشورهای ایران و پاکستان پناه بردند. در مقایســه با سایر کشورها، بیشترین مهاجرین افغان در پاکســتان ساکن شدند. در این کشــور، به‌ویژه در ایالت خــیبر پختونخوا، کمپ‌هــای خاصی برای آنان ایجــاد گردید و با حمایت ســازمان ملــل متحد، این مهاجرین در آنجا مسکن گزین شدند. با گذشت زمان، شمار زیادی از مهاجرین افغان از کمپ‌ها خارج شده و به شهرهای دیگر پاکستان مهاجرت کردند و در بخش های مختلف چــون تجارت، صنعت و ســایر زمینه‌ها مشــغول به کار و فعالیت شــدند. پس از آن‌که دولت پاکســتان تصمیم به اخراج مهاجرین افغان گرفت، بر بنیاد فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی و به منظور رســیدگی به مشکلات مهاجرین افغان که به‌گونهٔ اجباري از پاکســتان و سایر کشورها اخراج می‌شــوند، کمیســیون رســیدگی به مشکلات مهاجریــن تحت ریاســت محترم مولــوی عبدالسلام حنفی، معــاون اداری ریاســت‌الوزراء، با عضویت ۳۱ مقام بلندپایــه تشــکیل گردید. امــارت اسلامی در محدوده امکانات موجود خــود، به‌منظور ارائه خدمات ابتدایی به مهاجرین، یک طرزالعمل جامع در ۸ فصل و ۳۱ ماده تصویب و برای تطبیق آن یک دارالانشــاء و ۱۲ کمیتهٔ کاری ایجاد نمود. هدف اساسی از تشکیل این کمیســیون عبارت اند از: عودت باعزت مهاجرین افغان از کشــورهای خارجی؛ اسکان مهاجرین عودت کنندگان؛ فراهم‌ســازی شرایط مناسب برای زندگی و معیشت آنان و مهیا ساختن زمینه برای مشارکت آن‌ها در بازسازی کشور. همچنین، مدیریت مهاجرت مطابق ظرفیت‌های موجود در کشــور، فراهــم‌آوری خدمات حقوقی و اجتماعی برای مهاجرین و بازگشت‌کنندگان، و جلب همکاری‌هــای ملی و بین‌المللــی، به‌ویژه در بخش کشورهای میزبان، از طریق تدوین پالیسی‌های ملی و ایجاد هماهنگی‌های سیاسی از اهداف مهم به شمار می‌رود. علاوه بر پاکستان، در چند ماه اخیر روند اخراج دســته‌جمعی مهاجرین افغان از ایران نیز آغاز شــده اســت. ایران، در مدت چند روز اول ده‌ها هزار مهاجر افغان را بدون در نظر گرفتن قوانین بین‌المللی اخــراج کرد و این رونــد همچنان ادامــه دارد. امارت اسلامی افغانســتان پیشــاپیش آمادگــی لازم برای مدیریت مشــکلات مهاجریــن را داشــت و به‌منظور رســیدگی فوری به مهاجرینی کــه از ایران اخراج می شــوند، در کنار مهاجرین بازگشتی از پاکستان، تلاش هــای خــود را چند برابر ســاخته اســت. در مناطق سرحدی کمپ‌های موقت ایجاد گردیده و تدابیر انتقال آنان به ولایات مختلف کشور نیز تسریع شده است.

## آمادگــی امارت اسلامی بــرای پذیرش مهاجرین اخراج‌شده

پس از آغــاز روند اخراج اجبــاری مهاجرین افغان از پاکســتان، به منظور مدیریت امور عودت‌کنندگان و فراهم‌ســازی تســهیلات لازم برای آنان، کمیســیون رسیدگی به مشکلات مهاجرین در نزدیکی خط دیورند اقدام به ایجــاد کمپ‌هایی برای بازگشــت‌کنندگان نمود. این کمپ‌ها، با در نظر گرفتن امکانات موجود، خدماتی از جملــه تثبیت، شناســایی، انتقال، ارائه خدمات ابتدایی و خدمات صحی را به مهاجرین ارائه

می‌نمایند. در کنار این اقدامات گسترده و مؤثر، یکی از اقدامات مهم دیگر این کمیسیون، ایجاد شهرک های مسکونی در ولایات مختلف کشور برای مهاجرین عودت کننده می‌باشد. این شهرک‌ها به هدف اسکان دایمی و فراهم‌سازی محیطي مناسب برای زندگی آبرومندانه مهاجرین احداث می‌گردند. این اقدام بخشی از سیاست‌های بشردوستانه امارت اسلامی در راستای بازسازی کشور و حمایت از مهاجرین عودت کننده به شمار می‌رود. مطابق معلومات وزارت شهرسازی و مسکن، برای ۲۵ ولایت کشور، ۳۵ طرح شهرک‌های مسکونی مهاجرین تدوین شده است و در برخی از ولایات، روند توزیع نمرات زمین به مستحقین نیز آغاز گردیده است.

این شهرک‌ها به طور خاص برای مهاجرین عودت کننده طراحی شده‌اند تا:

- زمینه اسکان دایمی و مصؤن را فراهم کنند؛
- روند بازگشت داوطلبانه را تسهیل نمایند؛
- از سرگردانی مهاجرین پس از ورود به کشور جلوگیری شود؛
- کرامت انسانی، سلامت و امنیت آنان حفظ گردد؛
- و با جلب کمک‌های داخلی و بین‌المللی، زیربناهای این شهرک‌ها توسعه یابد.

در ولایت‌های مختلف به‌ویژه ننگرهار، خوست، قندهار، نیمروز، هرات، فاریاب، پکتیا و غزنی، شماری از این شهرک‌ها در حال اعمار می‌باشند. این شهرک ها به گونه‌ای طراحی شده‌اند که خانواده‌های عودت کننده بتوانند به‌گونهٔ موقت یا دایمی با اطمینان کامل در آنجا زندگی کنند. بر اساس نقشه تفصیلی شهرک‌ها، اماکن مسکونی، مکاتب، کلینیک‌ها و مراکز صحی، سیستم‌های آب‌رسانی، برق و فاضلاب، مساجد، و سایر امکانات در آن‌ها در نظر گرفته شده است. در جریان ساخت این شهرک‌ها، افزون بر وزارت امور مهاجرین و اداره‌های مربوطه امارت اسلامی، برخی نهادهای بین‌المللی از جمله کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور مهاجرین (UNHCR) و صلیب سرخ جهانی نیز سهمی در این روند داشته‌اند. همچنین، بخشی از کمک‌های بشردوستانه از سوی کشورهای دوست و مسلمان نیز ارائه شده که سهمی در تأمین بودجه و فراهم‌سازی امکانات مورد نیاز این پروژه‌ها ایفا نموده‌اند.

## شهرک‌های در نظر گرفته‌شده برای هم‌وطنان عودت‌کننده

مسئولان وزارت شهرسازی و مسکن می‌گویند که در تلاش‌اند تا برای مهاجرینی که به‌گونهٔ جبری به کشور بازگشته‌اند، زمینهٔ اسکان دایمی را فراهم نمایند. تا اکنون، در ۲۵ ولایت کشور، حدود ٦٠ شهرک برای عودت‌کنندگان در نظر گرفته شده و به همین منظور، ۹۴۰۲۷ جریب زمین اختصاص یافته است تا در آن هموطنان عودت کننده برای خود خانه بسازند. از جمله این تلاش امارت اسلامی تکمیل طرح ۳۵ شهرک مسکونی در ۲۵ ولایت کشور است که در شماری از ولایت‌ها، روند توزیع زمین به مستحقین نیز آغاز گردیده است. در این‌جا، به‌طور خلاصه، از شهرک‌های مذکور یادآوری می‌شود:

### ۱ - شهرک مهاجرین در قندهار

در ولایت قندهار، شهرک مهاجرین برای عودت

کنندگان در سه بخش در ولسوالی‌های ژیړی (۳۰۰۰ جریب)، تخته‌پل (۳۰۵۰ جریب) و دامان (۱۵۱۰ جریب) ایجاد می‌گردد که در بخش دامان ۱۱۴۰ نمرهٔ رهایشی همراه با مساجد، مراکز صحی، مکاتب، مدارس و ساحات سبز در نظر گرفته شده و نمرات براساس تعداد اعضای خانواده عودت کننده به سه کتگوری ۵، ۱۰ و ۱۵ بسوه تقسیم شده‌اند.

**۲ - شهرک مهاجرین در هلمند**

این شهرک در ولسوالی واشیر ولایت هلمند اعمار می گردد. شهرک مطابق پلان شهری در ۱۰ هزار جریب زمین در نزدیکی صحرای شوراب ولسوالی واشیر هلمند ساخته می‌شود که در فاز نخست آن ۳ مسجد بزرگ، ۱۸ مسجد کوچک، ۳۰ مکتب و مدرسه، ۸ مرکز صحی، ۵ شفاخانه، بازار و سایر امکانات در مساحت ۵ هزار جریب زمین اعمار می‌گردد. روند توزیع زمین به مهاجرین در این شهرک آغاز شده است. بخش نخست این شهرک به تاریخ هشتم جوزای سال جاری افتتاح گردید.

**۳ - شهرک مهاجرین در کندز**

این شهرک در منطقه خواجه کفتر ولسوالی چهاردره ولایت کندز در نظر گرفته شده است. در این شهرک که از سوی مقامات امارت اسلامی افتتاح شده، برای ۳ هزار و ۷۴۱ نمره زمین برنامه‌ریزی شده که سروی و کارهای توپوگرافی آن انجام یافته، پلان تفصیلی آن منظور گردیده و امور خط اندازی آن نیز تکمیل شده است. در این شهرک، نمرات زمین از سوی کمیسیون مربوطه به افراد مستحق توزیع خواهد شد.

**۴ - شهرک مهاجرین در بامیان**

در ولایت بامیان، شهرک مهاجرین در مساحت ۷۰۸ جریب زمین در نظر گرفته شده است. این شهرک در منطقه اژدر مرکز این ولایت اعمار می‌گردد که سروی و کارهای توپوگرافی آن از سوی وزارت امور شهرسازی و مسکن تکمیل شده و پلان تفصیلی آن نیز منظور گردیده است.

**۵ - شهرک مهاجرین در ارزگان**

این شهرک برای مهاجرین در منطقه چاه‌گی مرکز ولایت ارزگان (ترینکوت) اعمار می‌گردد. مسؤلان محلی می گویند که برای این شهرک ۲۰۰۰ جریب زمین در نظر گرفته شده و کارهای سروی، توپوگرافی، پلان تفصیلی و خط اندازی آن تکمیل گردیده است.

**۶ - شهرک مهاجرین در کنر**

این شهرک در ولسوالی خاص کنر این ولایت اعمار می گردد. وزارت امور شهرسازی و مسکن می‌گوید که کارهای سروی، توپوگرافی، پلان تفصیلی و خط اندازی این شهرک تکمیل شده است. این شهرک که در مساحت ۳۷۳ جریب زمین ساخته می‌شود، می‌تواند مشکل سرپناه ۲۶۳۸ خانواده مهاجر را حل نماید.

**۷ - شهرک مهاجرین در فاریاب**

این شهرک برای مهاجرین و عودت‌کنندگان در ولسوالی دولت‌آباد ولایت فاریاب در مساحت چهار هزار جریب زمین اعمار می‌گردد. وزارت امور شهرسازی و مسکن می‌گوید که در این شهرک ۲۶۲۰ نمره زمین، ۱۱ مسجد، ۳ شفاخانه، ۲ لیسه، ۵ مکتب ابتدایی، ۷

کودکستان، یک ترمینل ترانسپورتی، ساحه اداری و پارک در نظر گرفته شده است. در این شهرک به آن دسته از مهاجرینی که از خارج کشور بازگردانده شده‌اند و از سوی کمیسیون مربوطه مستحق شناخته شوند، زمین توزیع می‌گردد.

**۸ ـ شهرک مهاجرین در جوزجان**

در ولایت جوزجان، برای اعمار شهرک رهایشی مهاجرین، زمین در حومه شهر شبرغان، مرکز این ولایت، اختصاص داده شده است. این شهرک که در مساحت ۵۰۰۴ جریب زمین ساخته شده، شامل ۱۵۹۸ نمره رهایشی، ۴ مسجد، ۳ مدرسه، مکتب، پارک و سایر تسهیلات می‌باشد.

**۹ ـ شهرک مهاجرین در سرپل**

در ولایت سرپل، شهرک ویژه‌ای برای مهاجرین در منطقه چهل‌گزه ولسوالی سیدآباد این ولایت اعمار شده است. برای این شهرک ۱۲۴۷ جریب زمین در نظر گرفته شده که کارهای سروی و توپوگرافی آن تکمیل گردیده، پلان تفصیلی آن نیز منظور شده و سایر مراحل آن در جریان است. در این شهرک، نمرات زمین به افرادی توزیع خواهد شد که از خارج کشور بازگردانده شده‌اند.

**۱۰ ـ شهرک مهاجرین در پکتیا**

شهرک خانواده‌های برگشته در پکتیا به نام «دارالقرار» نام‌گذاری شده است. این شهرک دارای مساحت دو هزار جریب، ۸۹۰ نمره مسکونی و امکانات لازم مانند مسجدها، مکتب‌ها، پارک‌ها، مراکز صحی، بازار و سیستم آب آشامیدنی می‌باشد. صد نمره از این شهرک با همکاری صلیب سرخ و قطر ساخته خواهد شد. کارهای سروی، توپوگرافی، پلان تفصیلی و خط اندازی این شهرک به پایان رسیده است.

**۱۱ – شهرک مهاجرین در پکتیکا**

این شهرک در مرکز ولایت پکتیکا (شهر شرنه) در مساحت ۳۵۰۰ جریب زمین اعمار می‌گردد و دارای ۱۶۵۲ نمره مسکونی خواهد بود. این زمین‌ها از طریق یک روند شفاف به مهاجرینی توزیع می‌گردد که از سوی کمیسیون رسیدگی به مشکلات عودت‌کنندگان، مستحق شناخته شوند.

**۱۲ – شهرک مهاجرین در هرات**

در هرات نیز کار اعمار شهرک برای مهاجرین آغاز شده است. این شهرک در مساحت ۴۰۰۰ جریب زمین در مرکز این ولایت ساخته می‌شود. کارهای سروی، توپوگرافی و پلان تفصیلی آن تکمیل گردیده است. این شهرک برای اسکان ۴۸۶۷ خانواده مهاجر در نظر گرفته شده است.

**۱۳ – شهرک مهاجرین در غزنی**

در ولایت غزنی برای شهرک مهاجرین مجموعاً ۴۰۰۰ جریب زمین در نظر گرفته شده است که بخش نخست آن در مساحت ۱۹۰۰ جریب زمین اعمار می‌گردد. این شهرک که در منطقه «پس حصار» ساخته می‌شود، کارهای سروی و توپوگرافی آن تکمیل گردیده و پلان تفصیلی آن نیز مورد تأیید قرار گرفته است.

**۱۴ - شهرک مهاجرین در سمنگان**

در این ولایت، شهرک مهاجرین در مساحت ۲۱۱۳ جریب زمین در ولسوالی حضرت سلطان اعمار می‌گردد

که مطابق به اصول، ۱۴۶۳ نمره مسکونی در آن در نظر گرفته شده است. این شهرک که تمامی امکانات لازم در آن پیش‌بینی شده، ظرفیت اسکان برای ۱۴ هزار و ۶۳۰ نفر را دارا می‌باشد.

### ۱۵ – شهرک مهاجرین در فراه

در ولایت فراه، به‌منظور اعمار شهرک مهاجرین، ۵۵۰۰ جریب زمین اختصاص داده شده است. این شهرک که در منطقه دشت احمدآباد ساخته می‌شود، کارهای سروی و توپوگرافی آن تکمیل گردیده و پلان تفصیلی آن نیز مورد تأیید قرار گرفته است.

### ۱۶ – شهرک مهاجرین در زابل

این شهرک در مساحت ۴۳۲۱ جریب زمین در نظر گرفته شده است و مطابق با ماستر پلان وزارت امور شهرسازی و مسکن دیزاین گردیده که تمامی امکانات مورد نیاز برای زندگی در آن پیش‌بینی شده است. نمرات مسکونی این شهرک برای مهاجرین آن ولایت که از سوی کمیسیون رسیدگی به مشکلات مهاجرین مستحق شناخته شوند، توزیع خواهد شد. این شهرک در مرکز ولایت زابل (شهر قلات) اعمار می‌گردد که کارهای سروی و توپوگرافی آن انجام شده، پلان تفصیلی آن تکمیل گردیده و برای نزدیک به ۱۷۰۰ خانواده مهاجر در نظر گرفته شده است.

### ۱۷ – شهرک مهاجرین در پنجشیر

شهرک مهاجرین در ولایت پنجشیر، در مساحت ۱۸۷ جریب زمین اعمار می‌گردد. این شهرک که در ولسوالی عنابه ساخته می‌شود، تمامی امکانات مورد نیاز زندگی در آن پیش‌بینی شده است. کارهای سروی و توپوگرافی این شهرک تکمیل گردیده و نمرات مسکونی آن از سوی کمیسیون ویژه، به افراد مستحق و عودت‌کننده توزیع خواهد شد.

### ۱۸ - شهرک مهاجرین در نیمروز

از سوی وزارت امور شهرسازی و مسکن، در ولایت نیمروز نیز کارهای سروی و توپوگرافی شهرک مهاجرین تکمیل شده است. برای اعمار این شهرک، ۱۰ هزار جریب زمین در ولسوالی خاشرود اختصاص یافته است.

### ۱۹ – شهرک مهاجرین در لغمان

در ولایت لغمان نیز سروی توپوگرافی شهرک‌های مهاجرین تکمیل گردیده است. در این ولایت، سه شهرک برای مهاجرین در نظر گرفته شده است: شهرک منطقه شمکت که در مساحت ۴۵۹۰ جریب زمین ساخته می‌شود، شهرک منطقه کافرگله با ۱۳۲۵ جریب زمین و شهرک سوم در دشت بابا صاحب که برای آن ۱۰۵۰ جریب زمین در نظر گرفته شده است. کارهای سروی توپوگرافی این سه شهرک انجام یافته است.

### ۲۰ – شهرک مهاجرین در خوست

پس از آغاز اخراج اجباری افغان‌ها از کشورهای همسایه، امارت اسلامی افغانستان مانند سایر ولایت های کشور، در خوست نیز به منظور ساخت شهرک برای مهاجرین، ۱۳۰۰ جریب زمین اختصاص داده است. این شهرک که در منطقه صحرا آباد ساخته می‌شود، کارهای سروی توپوگرافی آن به پایان رسیده و پلان تفصیلی آن نیز تکمیل شده است.

## ۲۱ - شهرک مهاجرین در کابل

وزارت امور شهرسازی و مسکن در روند اختصاص زمین برای ساخت شهرک‌های مهاجرین در کابل نیز هزاران جریب زمین در نظر گرفته است. در کابل دو شهرک برای مهاجرین برنامه‌ریزی شده است؛ یکی در منطقه ارغندی که برای آن ۱۱۳۸ جریب زمین اختصاص یافته و دیگری در منطقه بگرام که ۲۲۸۰ جریب زمین برای آن در نظر گرفته شده است. پس از تکمیل کارهای سروی و توپوگرافی و منظوری پلان تفصیلی، مراحل بعدی ساخت این شهرک‌ها آغاز خواهد شد.

## ۲۲ – شهرک مهاجرین در بغلان

در ولایت بغلان نیز کارهای سروی و توپوگرافی شهرک مهاجرین تکمیل شده است. این شهرک در ولسوالی دهنه غوری این ولایت ساخته می‌شود که برای آن ۵۰۰۰ جریب زمین در نظر گرفته شده است.

## ۲۳ – شهرک مهاجرین در تخار

این شهرک در ولسوالی بهارک ولایت تخار ساخته می شود که مجموعاً ۲۰۰۰ جریب زمین برای آن در نظر گرفته شده است. پس از تکمیل سایر مراحل، روند توزیع نمرات مسکونی به مهاجرین در این شهرک آغاز خواهد شد.

## ۲۴ - شهرک مهاجرین در پروان

از سوی وزارت امور شهرسازی و مسکن، در پروان نیز برای شهرک مهاجرین ۸۷۱ جریب زمین سروی شده است. سایر مراحل این پروژه نیز در جریان بوده و به زودی تکمیل خواهد شد.

## ۲۵ – شهرک مهاجرین در ننگرهار

در مرکز ولایت ننگرهار، اخیراً سنگ بنای این شهرک توسط معاون اداری ریاست‌الوزراء گذاشته شده است. این شهرک که در ولسوالی رودات در مساحت ۳۰۰۰ جریب زمین ساخته می‌شود، تمامی امکانات زندگی را خواهد داشت. کارهای سروی، توپوگرافی و پلان تفصیلی این شهرک تکمیل شده است.

## ۲۶ – شهرک مهاجرین در میدان وردک

شهرک مهاجرین در ولایت میدان وردک، در دو بخش در نظر گرفته شده است. بخش اول در ولسوالی نرخ این ولایت در مساحت ۸۰۰ جریب زمین می‌باشد که کارهای سروی و توپوگرافی آن تکمیل شده و پلان تفصیلی نیز منظور شده است. بخش دوم در منطقه ده پاک شهر میدان است که در ۵۱۰ جریب زمین ساخته می‌شود و کارهای سروی، توپوگرافی و پلان تفصیلی آن نیز تکمیل و منظور شده است.

## ۲۷ – شهرک مهاجرین در بلخ

در ولایت بلخ، برای شهرک مهاجرین ۳۰۰۰ جریب زمین در ولسوالی نهر شاهی اختصاص یافته است. این شهرک شامل ۳۱۵۰ نمره زمین مسکونی، ۱۹ مسجد، ۱۰ مکتب، مراکز صحی، شفاخانه، پارک و سایر خدمات و امکانات عامه خواهد بود.

## ۲۸ – شهرک مهاجرین در لوگر

در لوگر، برای فاز دوم شهرک مهاجرین، ۱۰۰۰ جریب زمین در نظر گرفته شده است. کارهای

سروی و توپوگرافی این زمین تکمیل شده و سایر مراحل آن در جریان است. در این شهرک نیز تمامی امکانات مورد نیاز پیش‌بینی شده و نمرات مسکونی آن توسط کمیسیون ویژه به مهاجران مستحق توزیع خواهد شد.

### ۲۹ - شهرک مهاجرین در دایکندی

این شهرک در مرکز این ولایت ساخته می‌شود و برای آن ۱۲۲۲ جریب زمین در نظر گرفته شده است. پس از تکمیل مراحل ساخت شهرک، زمین به خانواده‌های عودت‌کننده مستحق اختصاص داده خواهد شد.

از جمله ولایت‌های مذکور، در قندهار و لغمان هرکدام سه شهرک، و در کابل و میدان وردگ در هرکدام دو شهرک در نظر گرفته شده است. در این شهرک‌ها به خانواده‌هایی که تعداد اعضای‌شان پنج نفر باشد، پنج بسوه زمین، اگر ده نفر باشند، ده بسوه زمین و اگر بیش از ده نفر باشند، پانزده بسوه زمین اختصاص داده می‌شود. تأسیسات زیربنایی مانند جاده‌ها، سیستم‌های تأمین آب و برق و سایر خدمات توسط امارت اسلامی ارائه می‌شود، اما هزینه ساخت خانه بر عهده خود مهاجرین است.

## نتیجه گیری

در افغانستان، اشغال‌های خارجی و جنگ‌ها باعث شده بود که شمار زیادی از مردم مجبور به مهاجرت شوند؛ بسیاری از این افراد به کشور عودت نمودند و بخشی که هنوز در کشورهای همسایه زندگی می‌کردند، اخیراً با اخراج اجباری از آن کشورها مواجه شده‌اند. بسیاری از این مهاجران در کشورهای میزبان کسب‌وکار و فعالیت های مختلفی داشتند و سال‌ها تلاش کرده بودند، اما اکنون بسیاری از این داشته‌ها را رها کرده‌اند. این افراد علاوه بر سایر خدمات، نیاز جدی به سرپناه دارند. به همین منظور، امارت اسلامی افغانستان کمیسیون ویژه برای مدیریت بهتر عودت‌کنندگان و رسیدگی به مشکلات آنان تشکیل داد. یکی از مسؤلیت‌های این کمیسیون فراهم‌کردن سرپناه برای بازگشت‌کنندگان است. براساس طرح‌های این کمیسیون، برای مهاجران در نزدیک به سی‌ویک ولایت کشور، ساخت ۳۵ شهرک پیش‌بینی شده است که هم‌اکنون بسیاری از پروژه‌های این شهرک‌ها در حال اجرا می‌باشند. با تکمیل این شهرک‌ها، مشکل سرپناه بازگشت‌کنندگان تا حد زیادی برطرف خواهد شد.



# واخان کې

## د چین او افغانستان ګډ بازار جوړېدل

## او پر سوداګرۍ یې اغېزې

فضل ولي شیراني

په دې لیکنه کې، د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د مخینې، د ګډ بازار جوړېدو د نویو هڅو او پر سوداګرۍ د ګډ بازار د اغېزو په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

د واخان دهلیز چې د افغانســتان په شمال ختیځ کې پروت دی، د بدخشــان ولایت یوه تنګه او غرنۍ سیمه ده چې جغرافیوي او ستراتیژیک اهمیت یې زیات دی. دا دهلیز د افغانســتان، تاجکستان، چین او پاکستان ترمنځ د یوې نقطې په توګه کار کوي او د مرکزي اسیا او سویلي اســیا ترمنځ د نښلونکي پل حیثیت لري. دا سیمه شاوخوا ۳۵۰ کیلومتره اوږدوالی لري او په ځینو برخــو کې یې عرض یــوازې ۱۰- ۲۰ کیلومتره دی. د واخان دهلیــز د پامیر او هندوکش غرونــو ترمنځ یوه طبیعي لاره ده، چې په تاریخي لحاظ د وریښمو لارې یوه برخه وه. واخان د خپلې غرنۍ جغرافیې، یخچالونو او ســیندونو له امله له چاپیریالي او ایکولوژیکي پلوه اهمیت لري. د واخان ملي پارک، چې په دې ســیمه کې جوړ شوی، د نادرو حیواناتو او نباتاتو کور دی، لکه د مارکو پولو پسونه او واورین پړانګان. واخان دهلیز له چیــن، پاکســتان او تاجکســتان سره د افغانســتان مستقیمه جغرافیوي اړیکه برابروي. دا د سوداګریزو او ستراتیژیکو اړیکو لپاره یو مهم مســیر دی. د اسلامي امــارت له بیاواکمنېدو وروســته، د واخــان دهلیز د فعالولو په اړه اقدامات شوي دي. د ۱۴۰۲ لمریز کال کې د اسلامي امارت د کابینــې په نهمه غونډه کې د ټولګټو چارو وزارت ته دنده وســپارل شوه چې د واخان لویې لارې د سروې، ډیزاین او اساسي جوړولو قرارداد پــه اړه لازم اقدامات وکړي او پلان دې د مشرتابه مقام ته وړاندې کړي. وروسته ټولګټو وزارت وویل چې د واخان دهلیز د جوړولو لپاره یې سروې بشپړه کړې او د سړک پر ډیزاین کار روان دی. ۱۴۰۲ لمریز کال کې د بدخشان په واخان کې د سړک جوړولو عملي کار پیل شو. دا مهال د واخان سړک چارې تر ډېره بریده پرمخ تللــې دي او چارې یې لا هم روانــې دي. له دې سره هممهاله د چین یوه خصوصي شرکت مشر د بلخ والي سره پــه کتنه کــې ویلي، چې غواړي واخــان کې د افغانســتان او چین ترمنځ ګډ بازار جوړ کړي، ترڅو د دواړو هېوادونو تولیدات پکې وپلورل شي. دغه چینایي پانګوال ویلي، شرکت یې په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته چمتــو دی او خپلې طرحې یې لــه بلخ والي سره شریکې کــړې دي. بل‌خوا د بلــخ والي له یاد شرکت څخه غوښــتې، چې پــر ژمنو عمل وکــړي او ډاډ یې ورکړی، چــې اسلامي امارت له بهرنیو پانګوالو سره هر اړخیزه همکاري کوي. دا چې دغه بازار به د سوداګرۍ په پراختیا کې څومره رول ولري لاندې یې په ګډه لولو.

## د چین او افغانســتان ترمنځ د سوداګریزو اړیکو مخینه او د ګډ بازار جوړېدو نوې هڅې

چین یوازینی هېواد دی چې واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروســته یې لــه افغانســتان سره د نورو هېوادونو په پرتله د ســیاسي اړیکو ترڅنګ اقتصادي په ځانګړې ډول سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي. دغه راز یو شــمیر چینایي شرکتونــو د هېواد په ځینو کانونــو کې پانګونه هــم وکړه.د چین او افغانســتان ترمنځ د سوداګرۍ کچه په وروستیو کلونو کې د پام

وړ پرمختګ کړی دی. په ۱۴۰۰ لمریز کال کې د افغانستان صادراتو کچه چین ته د ۸۰۱ میلیونو ډالرو په ارزښت وه چې عمده توکي يې وچه مېوه (لکه جلغوزي، بادام، او پسته)، زعفران، غالۍ او د ډبرو سکاره وو. په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د افغانستان صادراتو کچه میلیونونو ډالرو ته ورسېده. په ۱۴۰۰ کال کې د ۴۵ ټنه جلغوزو یوه کارګو د هوايي دهلیز له لارې چین ته صادره شوه چې دا د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا یوه بېلګه ده. د ۱۴۰۳ کال په لسو میاشتو کې له چین سره د افغانستان سوداګرۍ کچه ۵۴۸ میلیونه ډالره وه، چې ډېره برخه يې صادراتو جوړوله. له چین هېواد سره د سوداګرۍ د لا پراختیا په موخه اسلامي امارت د واخان دهلیز د پرانیستلو تکل وکړ. تر دې مهاله د واخان سړک تر کار لاندې دی او هڅه داده چې دا سړک بشپړ او پر مټ يې له چین سره سوداګري لا پراختیا ومومي. لکه څنګه مو چې په سریزه کې ورته اشاره وکړه، یو چینایي خصوصي شرکت غواړي چې په واخان کې د چین او افغانستان ګډ سوداګریز بازار جوړ کړي. د هېوادونو ترمنځ د ګډو بازارونو جوړېدل د اقتصادي، ټولنیزو او ستراتیژیکو ګټو یوه مهمه سرچینه ده، په ځانګړې توګه د هغو هېوادونو لپاره چې جغرافیايي نږدېوالی او مشترکې اقتصادي ګټې لري، لکه د چین او افغانستان ترمنځ د واخان دهلیز له لارې د سوداګریزو اړیکو پراختیا. اسلامي امارت د دې ډول بازار د جوړېدو هرکلی کړی دی او په دې برخه کې یاد شرکت ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

## پر سوداګرۍ د ګډ بازار اغېزې

ګډ بازارونه د هېوادونو ترمنځ د توکو او خدماتو د تبادلې لپاره مستقیمې لارې پرانیزي چې د سوداګریزو فعالیتونو حجم زیاتوي. د بېلګې په توګه، د واخان دهلیز له لارې د چین او افغانستان ترمنځ د ګډ بازار جوړېدل کولای شي د چینايي تولیداتو (لکه برېښنايي توکي او ټوکر) او افغاني محصولاتو (لکه وچې مېوې، قیمتي کاڼي او کرنیز محصولات) تبادلې ته وده ورکړي. د ګډو بازارونو بله ګټه داده چې دا بازارونه د ګمرکي تعرفو، مالیاتو او اداري خنډونو په کمولو سره سوداګري اسانه کوي چې دا د دواړو هېوادونو سوداګرو لپاره لګښتونه کموي. د ګډو بازارونو جوړېدل په ځانګړي ډول د واخان دهلیز په څېر ستراتیژیک موقعیتونو کې د ترانزیټي لارو د فعالولو لامل کېږي. د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په وینا، د واخان سړک بشپړېدل کولای شي په کلني ډول شاوخوا ٦ میلیارده ډالره ترانزیټي عواید ولري. دا عواید د هېوادونو ترمنځ د توکو لېږد، د سرحدي تاسیساتو او د ترانسپورټي خدمتونو له لارې ترلاسه کېږي. د ګډو بازارونو له لارې بهرنۍ پانګې جذبېدلای شي. د بېلګې په توګه، چین کولای شي په واخان دهلیز کې د زیربناوو (لکه سړکونه، پلونه او لوژستیکي مرکزونه) په جوړولو کې پانګونه وکړي، چې دا د افغانستان اقتصادي ودې او د کارموندنې لپاره ګټوره تمامېږي.

## پایله

د هېوادونو ترمنځ د ګډو بازارونو جوړېدل، لکه د چین او افغانستان ترمنځ د واخان دهلیز له لارې، د سوداګرۍ زیاتوالي، ترانزیټي عوایدو، پانګونې جذب، کارموندنې او اقتصادي تنوع لپاره لــوی فرصتونه برابروي. د اسلامي امــارت او چین ترمنځ نوې هڅې، پــه ځانګړې توګه د واخان سړک جوړولو او سوداګریزو خبرو اترو له لارې، د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره مهم ګامونه دي. خو د دې هڅو بشــپړ بریالیتوب د امنیتي، مــالي او جغرافیایي ننګونو د حل او د ســیمه ییزو همکاریو په پیاوړتیا پورې تړلی دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې شته ستونزې او ننګونې له منځه یوسي او د واخان دهلیز په جوړولو سره خپله سوداګري پراخه کړي. همدا لامل دی چې د واخان ســړک جوړولــو چارې ګړندۍ روانې دي. د دې ســـړک په جوړېدو سره به افغانستان یوازې د ترانزیټ له لارې میلیاردونه ډالر عواید ترلاســه کــړي. د واخــان دهلیــز فعالیــدل او اوس پــه دې ستراتیژیکه سیمه کې د چین - افغانستان ګډ سوداګریز بــازار په جوړیدو سره بــه د هېواد ســوداګري پراختیا ومومي، کرنیز محصولات او صنعتي تولیدات به بازار پیدا کړي، بهرنۍ پانګه به جذب، هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره او د سیمې  اقتصاد به ورسره وغوړېږي.



# د ملي پراختيا ستراتيژۍ مسودې ته لنډه کتنه

قيس احمد

په دې ليکنه کې د ملي پراختيا ستراتيژۍ لنډې پېژندنې، اهميت او اړتيا ، ليدلوري، موخو، جوړښت، رکنونو او سکتورونو، د لومړيتوب وړ ملي برنامو، د تمې وړ پايلو او نورو اړونده موضوعاتو په اړه بحث شوی دی.



## سریزه

ستراتیژي هغه مهم سند دی، چې د یو دولت له لوري د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو د روښـــانه کولو په موخه د اوږدمهـــال لپاره جوړیږي. ستراتیــــژي عمومي بڼه لري او د یو دولت ټولو سکټورونو (سیاسي، اقتصادي، امنیتي، ټولنیزو، کلتوري او ښوونیزو) ته شاملېږي. د ستراتیژۍ له مخې یـــو دولت خپل مالي او اقتصادي منابع، بشري قوه او له نورو هېوادونو سره دوه اړخیزې او څـــو اړخیزې اړیکې داســـې تنظیمـــوي، څو خپلو ټاکلـــو موخو ته د یو منظم، همغـــږي او مؤثر پلان له مخې په ښه ډول ورسېږي.

ستراتیژي د دولـــت لپاره یو واضح لیـــد او ماموریت ټاکي، چې په رڼا کې یې اوږدمهاله اهداف مشـــخص کېږي. ستراتیژي د پالیســـیو، پروګرامونـــو او منابعو تخصیص ته یو منظم چـــوکاټ برابروي، څو په دقیق ډول تصمیمونه ونیول شي. د ستراتیژۍ د موجودیت په صورت کې دولت خپل ولس ته د حســـاب ورکونې واضـــح لار پرانیـــزي او په دې توګـــه د دولت او ملت ترمنځ باور غښتلی کېږي.

د ستراتیژۍ هراړخیز ارزښت ته په کتو اسلامي امارت اړینه وبلله څو د راتلونکو پنځو کلونو لپاره دا مهم سند ولري. په همدې موخه اقتصادي کمېســـیون د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ او د اقتصاد وزارت په ســـکرتریت له اړوندو سکټوري وزارتونو او ادارو څخه جوړې شـــوې کمېټې ته دنده وســـپارله څو د راتلونکو پنځو کلونو لپـــاره د ملي پراختیا ستراتیژي ترتیب او د تایید په موخه یې دغه کمېسیون ته وړاندې کړي.

مؤظفې شوې کمېټې دغه ســـند ترتیب او اقتصادي کمېســـیون تـــه د تاییدۍ لپاره وړانـــدې کړ، چې له یوشـــمېر راغلو تعدیلاتو وروســـته تایید او د عالیقدر امیرالمؤمنین شـــیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظوره شوې ده. دلته مو دغه مهم پنځه کلن سند ته لنډه کتنه کړې ده.

## د ملي پراختیا ستراتیژۍ لنډه پېژندنه

ملي پراختیـــا ستراتیـــژي هغـــه جامـــع، واحد او اوږدمهاله ســـند دی چـــې د راتلونکـــو پنځو کلونو لپاره د هېواد د بنســـټیزو ملي موخو د ترلاسه کولو په پار چمتو شوی دی.

## د ملي پراختیا ستراتیژۍ اهمیت او اړتیا

دا یو مهم او اوږد لید لرونکی سند دی چې د راتلونکو پنځـــو کلونو لپاره د ملي موخو او لومړیتوبونو د تحقق په پار د ادارو د چارو د توحید او انســـجام لپاره زمینه برابـــروي او د لاندې موخو په ترلاســـه کولو کې مؤثر ثابتېږي:

- د امنیت او ثبات ټینګښت؛
- ښه حکومتولي او د قانون د حاکمیت ټینګښت؛
- متوازنه وده؛
- د پراختیایي چارو لارښوونه او همغږي کول؛
- د پانګونې جلب او جذب لپاره اسانتیاوې برابرول؛
- د بېوزلي او بې کاري کمول؛
- او د بهرنیو اړیکو ټینګښت او پراختیا.

## د جوړولو روش

د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژي سند په درېیو اصولو ولاړ دی:

۱. د تېرو ستراتیژیو له تجربو څخه زده کړه؛

۲. د افغانستان د اوسنیو شرایطو په پام کې نیول؛

۳. او د علمي اصولو په نظر کې نیول.

## لیدلوری:

یو باثباته، هوسا او له سیمې او نړۍ سره په ښو اړیکو سمبال افغانستان.

## موخې:

۱. د اسلامي شریعي قانون ټینګښت؛

۲. د مؤثریت، روڼتیا او حساب ورکونې اصل تأمینول؛

۳. له سیمې او نړۍ سره د مؤثرو او نېکو اړیکو پراختیا؛

۴. د پایښت لرونکې سولې او عمومي امنیت ټینګښت؛

۵. کارموندنه او اقتصادي وده؛

۶. د اسلامي حاکمیت، دیني او ملي ارزښتونو او ارضي تمامیت ساتنه؛

۷. د ملي او طبیعي سرچینو د مدیریت مؤثریت لوړول؛

۸. د بنسټیزو خدمتونو د عرضې ښه‌والی؛

۹. د صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور وده؛

۱۰. د زېربنا پراختیا او سیمه‌ییز اتصال؛

۱۱. او د ټولنیز خوندیتوب او د ژوند چاپېریال ښه‌والی.

## جوړښت:

د ملي پراختیا ستراتیژۍ موخه دا ده چې د افغانستان ټولې پراختیایي هڅې په یو منظم او همغږي مسیر پر مخ یوړل شي. د دې ستراتیژۍ جوړښت په لاندې ډول دی:

۱. درې رکنونه لري؛

۲. نهه سکټورونه لري؛

۳. ۱۵ د لومړیتوب وړ ملي برنامې لري.

## رکنونه او سکټورونه:

**اول رکن:** ښه حکومتولي او نړیوالې اړیکې

**د اول رکن اړوند سکټور:** د حکومتولۍ او عامه خدمتونو سکټور

**دوهم رکن:** امنیت او عامه نظم

**د دوهم رکن اړوند سکټور:** د امنیت او عامه نظم سکټور

**درېیم رکن:** اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

**د درېیم رکن اړوند سکټورونه:**

۱. د اقتصادي چارو او کرنې سکټور

۲. د طبیعي سرچینو او انرژۍ سکټور

۳. د استوګنې او ټولنیزې همغږۍ برابرولو سکټور

۴. د ترانسپورټ او مخابراتو سکټور

۵. د دیني چارو، پوهنې او کلتور سکټور

۶. د روغتیا سکټور

۷. د ټولنیز خوندیتوب او چاپېریال ساتنې سکټور

## ګډ مسایل:

- د شرعي احکامو بنسټیز کول؛
- د دیني او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره د پایداره پراختیایي موخو مؤثر تطبیق؛
- او د مرستو جلب او د هغوی مؤثرتیا لوړول.

## د لومړیتوب وړ ملي برنامې:

**ښه حکومتولي او نړیوالې اړیکې:**

- د اسلامي قانون واکمني او د ټولنیز عدالت تأمین
- د عامه سکټور اصلاح، د شفافیت او حساب ورکونې تأمین

- د سیمه‌ییزو او نړیوالو اړیکو پیاوړتیا او پراختیا

**امنیت او عامه نظم:**

- د امنیت ټینګښت او د پولو ساتنه
- د قانون پلي کـــول، له جرایمـــو سره مبارزه او د حکومتولۍ پیاوړتیا

**اقتصادي او ټولنیزه پراختیا:**

- د طبیعي سرچینـــو مؤثره او پایـــداره کارونه او د انرژۍ تأمین
- د کرنې او مالدارۍ پراختیا
- د عامه مالي مدیریت ښـــه‌والی او د برېښـــنایي تادیاتو پراختیا
- د روغتیایي خدماتو ښه‌والی او د خوړو خوندیتوب
- د پوهنې، بشري سرچینو او فرهنګ پراختیا
- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ پراختیا
- ښاري پراختیا او کلیوالي پرمختګ
- د پانګونې لپاره د مناســـب چاپېریال پیاوړتیا، د صنعت او سوداګرۍ وده
- د ټرانسپورټ او ترانزیټي زېربناوو پراختیا
- د ټولنیـــز خوندیتـــوب پیاوړتیـــا او د ســـالم چاپېریال تأمین

## د تمې وړ پایلې:

د حکومتولۍ معیاري کول: د روڼتیا او حســـاب ورکونې اصل پیاوړی کـــول او پر نظام د خلکو او نړیوالې ټولنې باور ډېروالی.

د بنســـټیزو خدمتونو معیاري کـــول: د ټولنیز عدالت تأمینول، ښـــوونې او روزنـــې، روغتیا او نورو بنســـټیزو خدمتونو ته ښه لاسرسی.

د امنیـــت لا ښـــه‌والی: د امنیتي ځواکونـــو د وړتیاوو لوړوالی، د امنیتي او دفاعي زېربناوو پراختیا، د جرمونو مخنیوی او د خلکو ځاني او مالي خوندیتوب.

اقتصادي او ټولنیزه پیاوړتیا: د کانونو او طبیعي سرچینو دوامداره مدیریت، د بنسټیزو پروژو پلي کېدل، سیمه‌ییز اتصال، د خصوصي سکټور وده او کارموندنه.

متوازنه پراختیـــا: په ټول هېواد کـــې د منابعو عادلانه تخصیص او عامه خدمتونو ته متوازن لاسرسی.

## پایله:

د دغه مهم ســـند په تطبیق سره به اسلامي امارت په بېلابېلو ســـکټورونو کې د خپلـــو لومړیتوبونو له مخې ټاکل شوو موخو ته په ښـــه ډول ورسېږي. ملت به پوه شي چـــې اسلامي امارت د هېـــواد د ابادۍ په موخه اوږدمهاله پلانونه لري. په دې سره به د ګډو اسلامي او ملي اهدافو پر لوري ګړندي ګامونه واخیستل شي. د اداري فساد، بیروکراسۍ او د منابعو له ضیاع څخه به مخنیوی وشي.

د هېـــواد د اقتصـــادي ودې پـــر لور به مؤثـــر ګامونه واخیســـتل شي، د سوداګرۍ او پانګونې کچه به زیاته شي، کرنـــه او صنعت به وده وکړي او په دې سره به په کور د ننه هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته شي. د دې سند د تطبیق په صورت کې به افغانستان د سیمه ییز اتصـــال په ځانګړي ډول د لویـــو مهمو اقتصادي پروژو په بشـــپړولو کې مؤثـــر رول ادا کړي. تعصب به ختم او په ټول هېواد کې به عدالت پلی او هر چا ته به خپل حق ورسېږي.

ښوونیز بنســـټونه به وده وکړي، د جرایمو مخنیوی به وشي، د طبیعي پېښو پر مهال به زیانمنو هېوادوالو او سیمو ته په ښه ډول رسېدنه وشي او په مجموع کې به د هېواد د بیارغونې او خودکفایۍ ته د رسېدو په موخه اساسي ګامونه واخیستل شي.

The 17th ECO Summit was attended by presidents, prime ministers, and senior officials of member countries, who emphasized enhanced cooperation and coordination among ECO member states in political, economic, trade, transit, transport, and cultural relations, as well as regional connectivity and investment.

On the 5th of July, the Deputy PM visited the Baku International Sea Port. He closely observed the port's facilities and transit operations and requested Azerbaijani officials to facilitate Afghan exports through this port. During the visit, which was attended by officials from both the Baku Port and railway authorities, it was announced that the port—strategically located along the Lapis Lazuli Corridor—is ready to support the export of Afghanistan's industrial products, agricultural goods, and minerals to Turkey and Europe. They also expressed readiness to facilitate the transport of Afghan commercial goods to Russia via rail through Iran.

During this visit, both sides agreed to establish joint technical committees to assess the existing transport routes and infrastructure and to create facilitation mechanisms for Afghan exports and joint trade and transit through the port.

After completing his official six-day visit, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund returned to Kabul on Sunday morning, the 6th of July.



enhancing banking relations, easing visa issuance for Afghans, and expanding exports and imports via rail.

The PM of Kazakhstan described his country's relationship with Afghanistan as positive and progressive. He announced that, to further develop these relations, Kazakhstan's Minister of Foreign Affairs would soon visit Kabul. Additionally, he expressed readiness to invest 500 million USD in the Torghundi–Herat railway project and stated that Kazakhstan is prepared to increase the import volume of fruits and agricultural products from Afghanistan.

On the same day, representing the Islamic Emirate of Afghanistan and the Afghan people, Deputy PM Mullah Baradar Akhund participated in and delivered a speech at the 17th Summit of the Heads of State of ECO member countries.

During his address at the summit, the Deputy PM welcomed the recognition of the Islamic Emirate of Afghanistan by the Russian Federation. He called upon ECO member states to similarly acknowledge the legitimate political reality of Afghanistan and to take practical and constructive steps toward recognizing the Islamic Emirate.

The Deputy PM elaborated on the Islamic Emirate's economy-driven foreign policy, the recent economic developments within Afghanistan, the available opportunities for investment, and Afghanistan's readiness to support the implementation and completion of major regional economic projects passing through its territory. He urged ECO member states to work closely with a stable, reliable, and cooperative Afghanistan to strengthen economic and regional collaboration, and to establish an environment of sustained progress and coordination in areas such as trade, investment, energy, transport, agriculture, environmental protection, and climate change. He stated:

"We believe that the economies of ECO member states can only truly flourish if Afghanistan becomes an active part of the equation."

At the summit, Deputy PM Mullah Baradar Akhund once again expressed the Islamic Emirate of Afghanistan's solidarity with the oppressed Palestinian people and said:

"The injustices being committed against the oppressed people of Gaza must come to an end immediately. We fully support the liberation of Palestine and the preservation of the Islamic identity of Al-Quds."

During his speech, the Deputy PM proposed that the next (18th) ECO Summit be held in Kabul. He stated that the Islamic Emirate is fully prepared to host this significant and high-level gathering and will warmly welcome all participants.

activation of the Lapis Lazuli Corridor and to facilitate cooperation and logistical support in this regard.

On Thursday, the 3rd of July, the Deputy PM traveled from Baku to the city of Fuzuli, and from there proceeded to the city of Khankendi to participate in the summit.

On the same day, Deputy PM Mullah Baradar Akhund met with the President of Uzbekistan, Shavkat Mirziyoyev, in the city of Khankendi. During this meeting, the Deputy PM expressed gratitude to the Republic of Uzbekistan for its support of Afghanistan on the international stage and for presenting a true image of Afghanistan to the world. Referring to the strong and positive historical relations between the two countries, he emphasized the need for Kabul and Tashkent to collaborate in the sectors of mining, transportation, transit, services, energy, and infrastructure projects, with the goal of increasing the volume of trade to three billion USD.

The President of Uzbekistan stated that his country is ready to invest in Afghanistan in several sectors, including the Mazar–Herat–Kandahar railway project, the establishment of textile factories, cement production, oil refineries, salt mining and processing, e-governance, and more. He also expressed readiness to increase electricity supply to Afghanistan and to facilitate the export of Afghan goods to the markets of Central Asia and Russia through Uzbekistan.

On the same day, Deputy PM Mullah Baradar Akhund also met with the Deputy PM and Minister of Foreign Affairs of Turkmenistan, Rashid Meredov, in the city of Khankendi. During this meeting, the two sides discussed enhancing the level of political relations, expanding bilateral trade and transit cooperation, progress on the TAPI and TAP power transmission projects, and initiating and managing joint efforts between Kabul and Ashgabat in the areas of agriculture, mining, transportation, infrastructure, and major development projects. Both sides emphasized effective coordination and the smooth implementation of these initiatives.

On the 4th of July, in the city of Khankendi, Deputy PM Mullah Baradar Akhund met with the PM of Kazakhstan. He described Kazakhstan as an important and trustworthy regional partner for Afghanistan and welcomed the appointment of a special envoy from Kazakhstan to Afghanistan as a positive step. He thanked the Republic of Kazakhstan for supporting Afghanistan on international platforms.

The Deputy PM emphasized the importance of increasing transit cooperation, boosting trade volume to three billion USD,



# REPORT ON THE SIX-DAY VISIT TO THE REPUBLIC OF AZERBAIJAN

On Tuesday morning, the 1st of July 2025, the Deputy PM for Economic Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, traveled to the Republic of Azerbaijan upon the official invitation of the Azerbaijani government to participate in the 17th Summit of the Economic Cooperation Organization (ECO). That same afternoon, he arrived in Baku, Azerbaijan, where he was warmly received by Azerbaijani officials at Heydar Aliyev International Airport.

On Wednesday, the 2nd of July, the Deputy PM met with the PM of Azerbaijan, Ali Asadov. At the outset, he expressed his gratitude to the Republic of Azerbaijan for officially inviting the delegation of the Islamic Emirate of Afghanistan to attend the 17th ECO Summit and for their warm hospitality. During the meeting, the Deputy PM called for Azerbaijani investment in the extraction and processing of oil and gas in Afghanistan, the expansion of the railway network, and the development of solar and wind power generation. He also emphasized the importance of operationalizing the Lapis Lazuli Corridor to promote bilateral trade.

The PM of Azerbaijan stated that his country is keen to strengthen its ties with Afghanistan through ECO, as well as through bilateral and trilateral cooperation across various sectors, and to invest in Afghanistan. He added that efforts are underway to implement the decisions made regarding the

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**